مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۳/۰۲/۱۰

# نه د ( لر و بر) یووالی کوم خوب دی

## او نه د تاریخي افغانستان بیرته راهسکېدل کوم خیال

دا د تاریخ جبر دی او د تاریخي تکامل یوه داسې پروسه ده، چې خامخا به بېلابېل پراوونه وهي او د انګریز په چاړه توټې شوی ولس به د خپل هویت، فرهنګي تاریخ او تاریخي فرهنګ په رڼا کې سره یو کیږي.

دا به زموږ بدمرغي وي، چې د دغه تکاملي پروسې په تر تولو تیاره او بده زمانه کې ژوند کوو، چې د خپلو لویو ارمانونو منزل ته په رسېدو کې له ګڼو ناهیلیو ځوریږو او د خپلو دوښمنانو او (ان دوستانو) له خوا په چړو وهل کیږو.

زه ولې وایم، چې تاریخي افغانستان یو (علمي وجود) دی؟

ښایي ابن خلدون له لومړنیو کسانو و، چې ټولنه یې د یوه ژوندي ارګانیزم په شان داسې قانونمنده نظام وګڼه، چې له تاریخي تجربو، شعوری کچ او اقتصادي وضعیت سره سم ځان بیرته رغوي. جرمني، یمن، ویتنام او ګڼ نور هېوادونه مو په مخ کې دي.

د ښکېلاک په لاس جوړ شوي مصنوعي جغرافیې ځکه رانړیږي، چې (بې ملته) دي او ملي هویت، چې یو هېواد سره اوبي، نه لري.

زړه به نه تنګوو، سل یا یونیم سل کاله د یوه ملت په تاریخ کې هېڅ زمانه هم نه ده. سل کاله به نور هم واوړي، موږ به مړه یو، لمسي او کړوسي به مو دغو ارمانونو ته رسیږي، زه هاغه ورځ داسې وینم لکه د پسرلي په یوه لمریزه ورځ کې چې د لمر سترګې ته ګورم.

تاریخ به پر ټولو هغو ښاغلیو، اغلیو، ګوندونو، خوځښتونو، ډلو ډلګیو خپل قضاوت کوي، چې په دغه بشپړتیایي بهیر کې یې مثبته یا منفي ونډه لرلې ده.

مهمه دا ده، چې موږ دغه ارمان ژوندی وساتو، خبرې پرې وکړو، روایات ورته تولید کړو، ادبیات ورته وپنځوو، خپلو بچو ته یې ورسوو، خپلو راتلونکیو نسلونو ته یې ژوندی وساتو.

زما دا کرښې پریوه ختین کودي ولیکئ، چېرته یې وغورځوي، ښایي یوه ورځ یې لرغونپوهان ولولي او پر ما نه، بلکې د ګډ فرهنګ و هویت پر بنسټ د هېوادونو او ملتونو په بیرته راکوشیرېدو به باورمن شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ